# نورک
# آکا



لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر

بخلیت: [illegible] / کال ۱۴۰۵ [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

**ليکي پوهه:**

**سرليک: نورک اکا**

**ليکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پښتنۍ ډيزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** مياشت - ورى / کال ۱۴۰۵

**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸+

**برېښناليک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**


**پخښنتئ.............................................................. ۱**

**بسم الله الرحمن الرحیم ................................................ ۲**

**لیکي پوهه:........................................................... ۳**

**لړلیک ............................................................... ٤**

**تراڼ (پیل، شروع، برید)............................................... ٥**

**د یادښتونو له پاره:.................................................... ۷**

**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) ....................................... ۸**

**د چاپ شویو کتابونو لېست........................................... ٦۹**

**د کار لاندې کتابونو لېست .......................................... ۷۳**

**د امکان او وخت په صورت کې........................................ ۷٤**

**د پخښنتئ څټ ...................................................... ۷٥**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
..............

## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیداینبت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**
دا ځل مې و غوښتل یوه بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه، فاریاب ولایت کې پیل شوې، وروسته بیا کابل ښار ته غزېدلې او روانه ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوڅکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې څانګې مینه وال په کې دېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال دېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
.............

**پاکه ربه!**
زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې پيژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونې:**

- د پخښتۍ انځور نور محمد (نورک اکا) په اجازې سره، اخيستل شوی او خپور شوی دی.
- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شريکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

## د یادښتونو له پاره:

۱- .......................................................................

۲- .......................................................................

۳- .......................................................................

۴- .......................................................................

۵- .......................................................................

۶- .......................................................................

۷- .......................................................................

۸- .......................................................................

۹- .......................................................................

۱۰- .....................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

هغه څه باندې ۸۰ اتیا کاله پخوا د فاریاب ولایت مرکز(میمنې) په یوه کلي کې او دیندارە کورنۍ کې، دې دنیا ته سترګې خلاصې کړې.

اصلی نوم یې نور محمد او بیا وروسته په نورک اکا مشهور شو.

د پلار نوم یې ګدای محمد او ډېر خواریکښ سړی و.

هغه ډېره مهربانه، غیرتي ښځه، دوې زامن او یوه لور درلودل.

هغوی ټولو، په خوشحالۍ سره ژوند تېراوه.

څه موده تېره شوه.

پلار یې ډېر کلک (سخت) ناروغه شو.

ښځې یې، هغه ډاکټر ته، بوته.

ډاکټر، هغه معاینه کړ.

څه دوایې یې ورته ورکړه.

هغه د دوا پر خوړو، پیل کړ.

مګر ورځ تر بلې به، ورانېده.

د هغه ښځه، امېندواره وه.

د درو میاشتو، ماشوم یې په خېټه (نس) کې و.

خپل مېړه به یې په ډاکټرانو او کله به یې په ملایانو او میا ګانو هم ګرځاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

هیڅ کس (هیڅوک) و نه توانېد چې، د هغه دوايي وکړي.

شپږ میاشتې تېرې شوې.

د هغوی کور ته، نوي ماشوم راغی.

په لمړی ورځ یې هغه، نږدې جومات ته وېوړ.

ملا امام د هغه په غوږ کې آذان وکړ او نوم یې پرې، نورمحمد کېښود.

درې ورځې یې لا نه وې تېرې شوې چې گدای محمد یانې د نورمحمد پلار مړ شو.

خلک راټول او هغه یې د سیمې د دود سره سم، خاورو ته وسپاره.

د نور محمد دوې ورونه او یوه خور لږ لوی وو.

په خوشحالی کې د هغوی کور ته غم هم د ننه شو.

چا به ویل چې:

نورمحمد بد گام (قدمه) و.

ځینو نورو به ویل:

دا د خدای رضا وه.

ښه او بد، د هغه په لاس کې دي.

هر څه وغواړي، هغه کوي.

د گدای محمد ورونو او نورو دوستانو د هغه پاتیا (فاتحه) واخیسته او هغه پسې یې د دریېمې ورځې خیر او خیرات هم وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

د ګدای محمد ورونو، خویندو، او د هغه د ښځې دوستانو به د هغوی سره مرستې کوې، ځکه چې د هغه زامن او لور خورا کوشنیان وو.

مور به یې د هغوی پا لنه (سر پرستي) کوه.

ماشومان، ورځ تر بلې لوېدل.

هغوی ته کوم نږدې، ښوونځی نه و.

هغوی ټول بې زده کړې پاتې او ځوانان شوو.

هغوی ځانونو ته،دندې (کارونه) و موندل.

هر څه چې به یې ګټل، په ګده به یې خوړل او ژوند به یې په خورا خوشحالۍ سره، تېراوه.

ورونو یې د شاهي حکومت کانون (قانون) سره سم عسکرۍ خدمت ته لاړل او وروسته په خپلو دندو(کارونو) اخته شوو.

هر چا واده وکړ او د ګډ کور نه، جلا شوو.

خور یې هم واده شوه.

نور محمد هم یوویشت کلن او عسکرۍ ته سوک (سوق ، ور وپېژندل) شو.

څو ورځې وروسته یې د عسکرۍ دندې له پاره، کابل ښار ته ولېږه.

هغه د عسکرۍ دنده، په کابل کې، په یوې قشلې (فرقې) کې، پیل کړه.

د جمعې په ورځو به د کابل ښار مرکز ته، ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
.............

په دې ورځ چې عمومي رخصتي وه، نه يواځې ملکي کارکونکي بلکه نظامي کار کونکي هم، رخصت وو.

د هېواد گوډ، گوډ نه راغلي ځوانان د عسکرئ تېرولو د پاره چې کابل ولايت بيا خاصتآ کابل ښار ته راغلي وو، د جمعې په ورځ به ښار ته د خپل اړين توکو اخيستلو، ليک لېږلو، دوستانو او انډيوالانو ليدو له پاره، ښار ته، تلل.

هغوی سهار وختي به خپل ځانونه ښار ته رسول، دغرمې ډوډئ به يې هم د چاينکي خونو، کبابي کاپيو(کافيو) او همدا راز د پل خشتي جومات تر ځنگ د تولکی پلو، په خوړو او شين چاى ځښلو تېراوه.

د جمعې لمونځونه به يې د پل خشتي، شاه دوشمشېرې، آخر جاده، پخته فروشی او د زاړه ښار په نورو جوماتونو کې د ځايي خلکو تر ځنگ (خوا) په جمع ادا کاوه او تر مازيگر ناوخته به، په ښار کې گرځېدل او کله ناکله به د کابل سيند پر دواړو غاړو کېناستل او د سيند ننداره به يې کوه.

ځينې به يې د هغه پېر سينماوو ته تلل او د هندي پلمونو(فلمونو) ننداره به يې کوه.

په دې ورځ به، کابل ښاريان ډېر لږ، ښار او بازار ته وتل.

ښځې خو به هېڅ نه ليدل کېدي، کوم يوه که به د ډېر مجبوريت پر بنسټ له کوره وته، هغه به هم، د خپل شرعي محرم سره وته.

دا ورځ په کابل او ځينو نورو ښارونو کې په عسکر بازار ورځ، هم يا دېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

نورک اکا هم د نور عسکرو په شان  د سهار چای د څښلو نه وروسته د خپلو انډیوالانو سره ښار ته، ته.

هغه څو انډیوالان د خپل ولایت څخه موندلي وو، کوم چې د کاه فروشۍ په کوڅې کې یې د چرګانو کاروبار، کاوه.

هغه به هم الته ته، د پل خشتي جومات تر څنګ به کېناسته هم به یې د چرګانو ننداره کوه او  هم به یې شین چای څښه.

د غرمې په وخت کې به یې الته تولکي پلو اخیست کوم چې پاو په یوه غېران (قېران) د هماغه وخت پیسې وې، اخیست.

دا پلو به تود، خوشبویه  او د آهن چادري په غابونو کې، کوم چې به د محلي البی (حلبي) جوړونکو د خوءا جوړ شوي وو، پلورېدل کېده.

عسکرو به دا پلو په مزه، مزه خوړه (خوړل).

بیا به یې، الته د زاړو برنجي (برونز) سماوارونو نه، شین چای اخیست، کوم کې به چې په ښکلو چیني چاینکو کې اچول کېده او د شنو چیني پیالو کې، کومو چې لاستي یې نه درلودل، څښل.

دا پیالي غوریي (شین) رنګ درلود او په اوزبکي پیالو مشهورې وې.

مازیګر به ورو، ورو سره غونډېدل او په ښاري بسونو کې به، خپلو فرقو یانې (یعنې) دندو خوا ته، تلل.

نورک اکا هم د نورو عسکرو په شان یوه غاب تولکي پلو اخیست او په خوند به یې خوړ.

وروسته به یې شین چای هم څښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

کومه چرګه او یا چرګ چې به یې سهار د ګټې له پاره اخیستی و، د غران (قران) او یا روپۍ په ګټه به یې خرڅ او د خپل د غرمې ډوډۍ، چای او د دواړو خواوو، د موټر کرایه به یې، وېسته.

هغه هېڅ کله نه غوښتل چې په اخیستل شویو چرګانو کې، تاوان (نقصان، ضرر) وکړي.

کله به یې چې چرګان په ګټه نه خرڅېدل، بیا به یې هغه خپل ملګري ته پرېښودل، چې هغه ته یې خرڅ او پیسې ترې په بله جمعې ورځې کې، واخلي.

داسې ورځې شپې او شپې سبا کېدې.

یوه کال عسکري یې تېره کړه، بیا بل کال هم تېر شو.

هغه د عسکرۍ نه، خلاص (ترخیض) شو.

بیا دوې شپې یې د خپلو ملګرو سره د کاه فروشۍ په کوڅې کې تېرې کړې.

دوې ورځې وروسته، د خپلو نورو اندیوالانو سره، خپل ټاټوبې یانی پلارني ځای، فاریاب و لایت ته، لاړ.

څه موده یې الته تېره کړه.

مور یې هم مړه شوه.

ورونو یې، واده وکړ.

بیا یې خور هم واده شوه.

نورک اکا الته ډېر کوښښ وکړ تر څو دنده و مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر هغه، بریالی نه شو.

څه موده یې تېره کړه.

ډېر په تنګ شو.

بیا یې خپل ورور ته، و ویل:

دلته اخوا دېخوا ګرځم، کومه دنده هم نه شته.

مفت خوري مې هم، نه خوښېږي.

ښه به وي، د کوم دندې او یا کار د پاره، کابل ته لاړ شم.

ورور یې و ویل:

سمه ده!

هر څه چې ستا خوښه وي.

هغه سهار وختي له خوبه، پاڅېد.

اودس او لمونځ نه وروسته یې، خپل ورور نه خدای پاماني واخیسته او میمنې ښار ته، لاړ.

البته، د کابل ولایت په بس کې، کښېناست.

نیمه ګړۍ وروسته، بس ډک او د سرای نه کابل ښار پر لور یې ،حرکت و کړ.

ماښام بس کابل ته ورسېد.

مسافر ترې، ښکته شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

هرڅوک، په خپلو موخو پسې لاړل.

نورک اکا هم د نورو مسافر په څېر له بس نه کښته او د کابل ښار مرکز خوا روان شو.

البته د کاه فروشۍ کوڅې ته ننوت او د خپلو ملګرو کوټې ته، نږدې شو.

دروازه يې و تکوه.

ملګري يې، دروازه خلاصه کړه.

ګوري چې د دروازې تر څنګ، نورک اکا ولاړ دی.

هغه يې په غېږ کې ونيو او د هغه سره يې روغبړ وکړ.

بيا يې هغه د لاس نه ونيو او کوټې ته يې د ننه کړ.

ملګرو يې هغه ته توشکه سمه او د هغه يې وغوښتل چې پرې کښېني.

بل ملګرې يې بالښت د هغه تر څنګ کېښود.

يوه ملګر يې چايجوش واخيست او د کوټې نه، د باندې شو.

د سماوار نه يې، هغه ته شين چاى راوړ او په پيالو کې يې و وېشه.

لږ کابلۍ شېرېني يې ملګري د الماری نه په غاب کې واخيسته او د نورک اکا مخې ته يې کېښوده.

خبرې، اترې پيل شوې.

لمړی کورنی خبرې پيل او ملګرو يې د هغه د مور د مړينې په هکله، دوعا (دعا)، وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

بیا ټولو، آمین و ویل.

چای وڅښل شو.

د شپې ډوډۍ وخت ورسېد.

ملګرو یې، څه وریجې چې د غرمې نه پاتې وي، تودې کړې.

ټولو په خوراک، پیل کړ.

وروسته، د کسب او کار، خبرې پیل شوې.

بحث د چرګانو پلور او پېر و.

یوه به ویل:

نن مې دوې روپۍ وګټې.

بل به ویل:

نن بازار سوړ و، یواځې دوي چرګان مې په هندوانو خرڅ کړل او په هغو کې مې، ډېره ګټه وکړه.

بل یې و ویل:

کاشکې زمونږ ټول پېرودونکی، هندوان وی.

هغوی، ډېرې جګړې، نه کوي.

بیا نورک اکا، وخندل.

ټول خو، هندوان، نه دي.

دلته ۹۸ سلنه مسلمانان، ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

نورک اکا و ویل:

تاسو ډېر ظالمان یاست.

ډېره ګټه د هر چا، خوښه راځي.

انصاف، ښه شی دی.

بیا، بل ملګري یې و ویل:

سمه ده!

هر څوک به په هغې دنیا کې، خپل ځواب وایی.

په دري ژبې کې وایي:

در دکان قصابی، بز از پای خود و گوسفند از پای خود آویزان است.

په خبرو خبرو، شپه پخه شوه.

د نورک اکا مشر ملګري و ویل:

شپه، پخه ده.

ښه به وي، چې شپه جوړه او ټول بیده شوو.

بیا توشکې اوارې او هر کس پر خپلو ځایونو پرېوتل او بړستنې یې پر ځانونو و غوړوې (کش کړې).

نورک اکا هم، په یوې توشکې پرېوت او خپل پټو یې پر ځان کش کړ.

ملګر یې، غږ کړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

یوه برېستنه واخله.

د کابل اوا(هوا) سهار وختي، سړه وي.

بیا به دې ساړه او ناروغه شي.

نورک اکا د خپل ملګري خبره، و منه.

هغه هم پر ځان برېستنه واچوه او بیده شو.

سهار وختي، ټول د لمانځه د ادا کولو د پاره پاڅېدل او کاه فروشي جومات ته، لاړل.

لمړی یې اودسونه او بیا یې لمونځ په جمع، ادا کړ.

د لمانځه نه وروسته، ټول کوټې ته، ستانه شو.

چای و ځښل شو او ملګرو یې و ویل:

ته په کوټې کې، کښېنه!

مونږ به د کار او بار پسې لاړ شو.

نورک اکا و ویل:

زه هم د کارو بار له پاره (په خاطر)، دلته راغلی یم.

کوټې کې، زما زړه په تنګ راځي.

زه هم غواړم د چرګانو، کارو بار پیل کړم.

ملګرو یې و ویل:

ستا خوښه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

څرنګه چې ته، خوشحاله يې.

نورک اکا هم د کوټې نه، د باندې شو.

ملګرو يې، دروازه وتړه.

بيا ټول د کاه فروشۍ کوڅې پيل چې د پل خشتي څټ ته نږدې وه، لاړل.

چا خپل پروني اخيستي چرګان او چرګې د لروګو کفسونو سره سړک غاړې ته کېښودل، تر څو يې په ښې بيې يا ګټه، وپلوري.

نورک اکا هم د هغو تر څنګ کښېناست.

کوم کس (چا) چې به چرګان او چرګې پلور د پاره راوړې، په جګړو ،جګړو به يې پېرودل او لږ ځنډ وروسته به يې په ګټه پلورل.

غرمه شوه.

د تولکي تود پلو بوی هرې خوا، خپور شو.

نورک اکا هم د خپلو ملګرو سره روان شو او الته يې په خپلو ګټلو پيسو تولکی پلو، و خوړ.

بيا يې شين چای هم و څښه.

لمانځه نه وروسته، بېرته خپل ځای ته، ستون شو او تر ماښامه، په پېر او پلور اخته و.

ماښام د ملګرو سره يوه ځای، د هغوی کوټې ته، لاړ.

د شپې ډوډۍ خوړو نه وروسته، خپلو ملګروته يې، و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

زه غواړم په ټولو چارو کې د تاسو سره، خپله ونډه واخلم.

د کوټې د کرایې نه نیولې، تر خوړو او کالي منځلو، پورې.

ملګرو یې و ویل:

ته زمونږ، مېلمه یې.

مېلمه د خدای دوست دی.

مونږ د تا نه پیسې، نه اخلو.

نورک اکا د دري ژبې متل، و ویل:

مهمان یک روز، دو روز نه، تا نو روز.

ملګرو یې و ویل:

سمه ده!

هر څه چې، ستا خوښه وي.

سر له سبا، هغه هم په ټولو خرڅو(خرچو، مصرفونو) کې ونډه پیل کړه.

نورک اکا په کابل کې خوشحاله ژوند، پیل کړ.

سهار چای سره به یې حلوا کومه چې د خلکو د خوا، پل خشتي جومات ته څېرمه د خیرات او یا د قرانکریم ختم نه وروسته وېشل کېده، د نانوایي تودې ډوډۍ سره به یې لاس ته راوړه او د چای سره به یې خوړه.

غرمه یې هم د تولکي پلو، پر زړه پورې خواړه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
..............

شپه به د ملګرو سره د الوګانو(کچالانو) په پیاوي تېروه.

څه موده تېره شوه.

هغه ته یوه لیک ورسېد.

په لیک کې لیکل شوي و.

سلام و علیکم ورحمت الله و برکاته!
برادرمحترم، نور محمد خان:
یک هفته بعد در روز جمعه عروسی من است.
از شما دعوت به عمل می آید تا در عروسی بنده اشتراک نموده ممنون سازید.
با احترام
برادر بزرگ شما

نورک اکا هم د خپلو زېرمو پیسو نه یوه اندازه پیسې بېلې او پر هغو يې خپل ورور او ورېنداري ته، څه سوغات واخیستل او د چهار شنبې په ورځ يې، د کابل ښار نه، حرکت وکړ.

لمړی مزار شریف ښار او بیا وروسته د پنج شنبې په ورځ ناوخته فاریاب ولایت مرکز، میمنې ښار ته، ورسېد.

څو د کیکې (دقیقو) نه وروسته، هغه خپل پلارنې کور ته، ورسېد.

دروازه يې وټکوه.

کشر ورور يې دروازې ته، راغی.

هغه دروازه، خلاصه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

ويې ليد چې، يوه کس د دروازه  تر څنګ (شا) ولاړ دی، مخه يې بلې خوا وه.

کشر ورور يې، هغه ته سلام ورکړ.

د نورک اکا ورته، پام شو.

بيا يې يو بل ته غېږه ورکړه او دواړو سره روغبړ وکړ.

ورونه او خور يې الته په وطن کې، ژوند کاوه.

خپله نور محمد، په کابل کې مسافر و.

نور محمد هم ډېر کاله وروسته، الته تللی و.

بيا کور ته، ننوت.

خور يې هم د هغه مخې ته راو وته او  هغه ته يې سلام ورکړ.

هغه هم د خپلې خورې سلام ته، وعليکم و ويل.

بيا يې هغه ته، و ويل:

دې کوټې ته، راشه!

نورمحمد  د ميلمه کوټې ته، ننوت او پر يوې توشکې، کښېناست.

سوغات يې هم خوا ته، کېښودل.

بيا يې يوه بالښت تر څنګ (شا) کېښود.

خور يې و پوښتل:

دا څه دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور محمد و ویل:

دا سوغات دي.

خور يې بيا وپوښتل:

سوغات دې چا ته، راوړي دي؟

هغه و ویل:

ورور او ورېندارې ته مې، راوړلې دي.

هغې و ویل:

زه خو دې په یاد هم، نه وم.

نور محمد و ویل:

په یاد مې، وې.

خو وخت لنډ او مناسبه سوغات مې په مخه، را نه غلل.

سبا جمعه او بازار تود وي.

تا ته به سبا، دلته څه سوغات، واخلم.

هغې و ویل:

مننه کوم.

هسې مې، ټوکې کوې.

هر څه، لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

کالي او بنګړي راته، لا لا مې اخيستي دي.

ته سوچ، مه کوه.

ښه شو چې، په خير راغلې.

زما هېڅ باور نه کېده، چې ته به، راشې.

ښه راغلاست.

بيا خور يې د کوټې نه، و وته.

لږ ځنډ وروسته يې، هغه ته چای راوړ.

بيا يې نور محمد ته، و ويل:

تا ته کند (قند) راوړم که نبات؟

نور محمد و ويل:

هر څه چې وې او د چای سره و خوړل شي.

بيا خور يې څه نبات مات او په غاب کې يې، واچول.

غاب يې خپل ورور ته، نږدې کړ.

نورمحمد، پر چای څښلو پيل کړ.

ورور يې هم، کوټې ته، ننوت او څه ځنډ وروسته، بل ورور يې هم راورسېد.

خبرې، اترې پيل شوې.

کيسې هم تودې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

هغوی له ورایه د واده کارونه پیل کړي او سر ته یې رسولي وو.

ټول شیان تیار وو.

د واده خرید هم شوی و.

په خبرو خبرو، ماښام شو.

څه نور میلمانه یې هم، د لرې ځایونو نه، ورسېدل.

د شپې ډوډۍ تیاره او بیا وخوړل شوه.

چای هم، پسې و څښل شو.

شپه را ورسېده او ټول بیده شوو.

سهار وختي د لمانځه ادا کولو د پاره، ټول پاڅېدل.

نارینه د باندې جومات ته، لاړل.

ښځو په کور کې، لمنځونه، ادا کړل.

بیا ښځو د سهار چای، تیار کړ.

نارینه هم د جومات نه، راورسېدل.

سهار چای وختي، و څښل شو.

بیا د آشپزانو مشر هم راغی.

هغه هم، چای وڅښنه.

څو واړه دېګی د لرې ځایونو راتلونکو مېلمنو د پاره، باندې شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

د کور نه د باندې لويې خېمې (تجيرونه) ودرول شوو.

ټغرې، فرش شوې.

د خاصو مېلمنو د پاره، توشکې او بالښتونه هم، راوړل شوو.

سازنده هم بلل شوي، وو.

مګر تر دې وخته، نه وو راغلي.

د واده اصلی مراسم د شپې له خوا وو.

د غرمې ډوډۍ وخوړل شوه، بيا ماسپښين، مازيګر او ماښام شو.

غټ (لوی) ديګي، باندې شوو.

د هرې خوا نه به مېلمانه، راتلل.

سازنده هم، ورسېدل.

مجلس تود، شو.

قطغني سندرې، ملي اتڼ او راز، راز نڅاوې، پيل شوې.

بيا د شپې ډوډۍ، و وېشل شوه.

خاصو مېلمنو، چای و څښل.

بيا ساز پيل او تر نيمې شپې يې، دوام وکړ.

شپه پخه او ساز بند شو.

خلکو، په وتلو پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

د نږدې ځایونو مېلمانه، خپلو کورونو ته، لاړل.

یواځې ډېر لږ او نږدې خپل او خپلوانو، الته شپه وکړه.

بیا سبا غرمې نه مخکې یې، ناوې په ډولۍ کې راو سته.

د ناوې راوستو نه وروسته، څه خپل او خپلوان هم پاتې وو.

بیا د ناوې پرانستل (رونمایی) مجلس پیل او هر چا به ناوې ته سوغاتونه، ورکول.

نورمحمد هم هغې او خپل ورور ته اخیستل شوې سوغاتونه، ورکړل.

بیا یې هغوی ته، مبارکي و ویله.

غرمه شوه.

مجلس هم پای ته، ورسېد.

د غرمې ډوډۍ خوړو نه وروسته، پاتې مېلمانه هم، په خپلو موخو پسې لاړل.

نورمحمد، بله شپه هم د ورونو په کور کې، تېره کړه.

سبا یې د ورونو او خور نه، خدای پاماني واخیسته او بېرته، کابل ته روان شو.

ماښام ناوخته هغه، کابل ښار ته، ورسېد.

بیا په پښو کاه فروشي کوڅې لور یې، پر حرکت پیل کړ.

ګړۍ وروسته هغه کوڅې ته، ورسېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

بیا خپلې کوټې ته لاړ، کومه یې چې په ګډ(شریکه) نیولې وه.

څه مو ده نوره هم، تېره شوه.

بیا یې دوېیم ورور، واده وکړ.

درېم کاله وروسته خور یې هم، واده شوه.

هر کس (چا) خپل نوی ژوند، پیل کړ.

نورک اکا دهغوی په وادونو کې هم ګډون وکړ او څه ډالۍ (تحفې) به یې په کابل ښار کې اخیستې او هغوی ته به یې ورکوې.

وخت تېرېده.

ملګرو به یې ویل:

نورک اکا!

ته ښځي یواځې (مجرد) پاتې شوې!

چا به ویل:

ته د واحدو(مجردینو) شیخ شوې.

څه وخت ستا د ښځې کولو ګرځول (نوبت) دی؟

مونږ غواړ چې ستا د واده پلوهم، وخورو.

هغه به ویل:

تاسو ولې بې صبره یاست.

نوبت خو زما دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

څکه!

دواړو ورونو او خور مې هم واده کړی او خورا ښایسته او ګلالي، ماشومان لري.

زه هم غواړم د هغو په شان، واده وکړم.

خپله کورنۍ ولرم.

غواړم، ګلالي ماشومان ولرم.

مګر زه!!؟

ستونزه لرم.

ستونزه، د پیسو، نه لرل دي.

د واده د ولور پیسې، نه لرم.

کوښښ کوم، پیسې ټولې او واده پرې وکړم.

کلونه، تېر شوو.

نورک اکا څه پیسې، ټولې کړي.

ملګرو یې هغه ته، یوه انجلي خوښه کړه.

د نورک اکا عمر(سن) ډېر پوخ شوی و.

د ډاکټرنجیب الله حکومت و.

ملګرو یې لاس په کار، شوو.

هغه ته یې رایباري، وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
..............

د نورک اکا له خوا هغوي، ضمانت کوونکی شوو.

هغه ته یې نږدې یوه کور، په کرایه هم ونیو.

کور په زاړه ښار او چنداول سیمې کې، شتون درلود.

کور د اومه خښتو او خټو نه جوړ شوی و.

البته په کور کې دوې کوټې، پخلی خونه، حمام او تشناب هم وو.

کوشنی انګړ یې درلود.

په انګړ کې، یوه د اوبو څاه هم وه.

د انګړ دروازه ډېره پخوانۍ او د لرګو نه جوړه شوې وه.

کور هم، د کوڅو په منځ کې و.

په ژمي کې د خټو او په اوړي کې به د خاورو او دوړو نه په تنګ و.

درې میاشتې، تېرې شوې.

لمړی یې دسمال واخیست بیا یې ساده کوژده (کوزده) وکړه او درې کاله وروسته یې واده هم، وکړ.

په واده کې یې د هغه ورونو او خور هم ګډون، کړی وو.

څه وخت تېر شو.

هغه ته خدای زوی، ور په برخه کړ.

هغه، ډېر خوشحاله شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

هغه ته د کابل د رسم او رواج سره، د شپږمې شپې (شب شش) ساده مراسم، ونیول.

په هغه مراسمو کې هغه د خوسر (خسر خېلو) او ګاونډیانو ښځو ګډون کړی وو.

څه موده، تېره شوه.

بیا یې خپل زوی، سونت (سنت) کړ.

د سونتی مراسم یې، په خوږې حلوا، تېر کړل.

زوی یې دوې کلن شو.

څه موده وروسته یې دوېیم زوی او بیا یوه لور.......... وشوه.

ژوند، تېرېده.

هغه به څه موده په یوه کرایي کور کې او بیا به یې څه موده په بل کرایي کور کې، تېروه.

هغه به کوښښ کوه چې د ښار نږدې سیمو نه، لېرې لاړ نه شي.

د هغه له پاره تګ او راتګ ستوزمن و.

هغه به تل دا سوچ کوه، تر څو داسې کرایي ځای د اوسېدو له پاره غوره کړي، تر څو کاه فروشۍ کوڅې یانې د هغه د دندې ځای ته، نږدې او د موټرو د کرایي ورکولو نه، بې برخې شي.

هغه هره ورځ سهار وختي، خپل کار سیمې ته او ماښام ناوخته، بېرته خپل کورته، ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

زامنو یې شاو خوا کاه فروشۍ ته نږدې سیمو کې، کار کاوه.

ځوک یې د الوګانو (کچالانو) چپس پخاوه او خرڅاوه، دوي نور یې د پخوانۍ چارچتي بازار کوڅې کې، چې اوس محال د کهنه فروشي په کوڅې مشهوره ده، راکړه ورکړه درلوده.

هغوي ټول سهار وختي نه تر ماښام ناوخته پورې کار کاوه او پیسې به یې ګټي.

څه یې په خوراکي توکو، کور کرایې، برېښنا بل، داروګانو او د ژوند اړتیا وړ، شیانو مصرفه وې.

څه پیسې یې، زېرمه کوې.

اولادونه یې کله نا کله د پیسو ګټلو د پاره، ایران هېواد ته، هم تلل.

اولادونه یې ټول د نورک اکا په شان، خواریکښ وو.

څه وخت تېر شو.

په نظام کې، بدلون راغی.

کورنۍ جګړې پیل شوې.

هغه هم د نورو کابلیانو په څېر، د کابل زاړه ښار نه، تېښته وکړه.

د کابل شمالي سیمي ته، د خپلو ماشومانو سره کډه شو.

البته یې هم د سرایې شمالي ته څېرمه د څارندوی (پولیس مېنې) تر پوخ سړک، د چرګانو په پېر او پلور بوخت و.

ځوکاله یې د کابل د یوې سیمې نه، بلې سیمې ته کډه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

پوره څلور کاله يې د کابل په شاوخوا کې، تېر کړل.

نورک اکا، د خپلو زامنو په سوچ کې و.

هغه بېرېده چې د هغه په څېر به، هغوي هم عسکري ته سوق (ګډ) شي.

مګر د بدلونونه سره سم، جبري عسکري خدمت، له منځه لاړ.

جبري عسکري سيستم لړنګ شو.

حالات لږ، لږ په ښه کېدو، شوو.

نورک اکا هم د نورو کابليانو کډوالو په څېر، بېرته د کابل زاړه ښار ته، کډه، وکړه.

لمړی په يوه کور کې چې خاوند (مالک) يې د کابل ښار نه وتي و، په وړيا توګه، خپلې شپې او ورځې تېروې.

څلور کاله يې الته، ژوند وکړ.

يوه ورځ، د کور خاوند راغی.

دروازه يې و ټکوه.

نورک اکا په کور کې، نه و.

دروازې خلاصولو د پاره يې زوی راغی.

دروازه يې خلاصه کړه.

د کور خاوند ته يې سلام، ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د الک سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا یې و پوښتل:

نورک اکا چېرته دی؟

زوی یې و ویل:

هغه کار ته، تللی دی.

بیا یې و پوښتل:

د کار ځای یې چېرته، دی؟

زوی یې و ویل:

د کاه فروشۍ په کوڅې کې دی.

بیا یې الک ته، و ویل:

کولای شې هغه ته، غږ کړې؟

الک و ویل:

هو!

بیا هغه و ویل.

ته لاړ شه هغه ته و وایه چې د څو دکیکو له پاره دلته راشي.

زه به دلته، د هتۍ سره کښېنم.

الک و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده!

کس (د کور خاوند) هټۍ ته نږدې او هټۍوال ته یې، سلام ورکړ.

هټۍوال هم د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا یې و پوښتل:

څه مو په کار وو؟

هغه و ویل:

نه!

د نورک اکا سره مې، کار دی.

کولای شم د هغه د راتګ پورې، دلته انتظار شم؟

هټۍوال و ویل:

هو!

ولې نه!

دا ده!

پر دې څوکۍ، کښېنه.

د کور خاوند، څوکۍ د هټۍ دروازې ته څېرمه کېښوده.

بیا هغه، پرې کښېناست.

هټۍوال هغه ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښنلو د پاره تود چای په ترموز کې لرم.

د کور خاوند و ویل:

مننه کوم.

همدا اوس مې چای و ښښه.

څو دکیکې یې لمر ته ډډه و وهه.

له جبه یې اوږده تسبیح، وباسه.

بیا یې په اړولو پیل کړ.

لمر ورته، خوند ورکړ.

څه وخت وروسته، تږی شو.

بیا یې په جبونو کې، لاس و واهه.

څه پیسې یې د جبه، و وېستې.

هټیوال ته یې و ویل:

یوه بوتل خوږې اوبه، راکړه.

هټیوال و ویل:

څه درکړم؟

د کور خاوند و ویل:

څه لرې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:

کولا، فانتا او سپرایت لرو.

د کور خاوند وپوښتل:

کوم یو یې ارزانه دی؟

هټیوال و ویل:

ټولو بیه یې یوه شان ده.

خوند او رنګ یې بېل دی.

بیا هټیوال ورته، فانتا ورکړه.

هغه د فانتا سر پوښ خلاص او په څښلو یې، پیل کړ.

په دې وخت کې، نورک اکا هم ورسېد.

نورک اکا د کور خاوند، و پېژاند.

هټۍ ته، نږدې شو.

بیا یې سلام ورکړ.

د روغبړ نه روسته یې نورک اکا ته، و ویل:

د کور حالات (وضعیت)، څنګه دی؟

نورک اکا و ویل:

د پخوا په شان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د کور خاوند و ویل:

کومه مرستندویه ټولنه به خو د بیا جوړونې د پاره نه وي راغلې؟

نورک اکا و ویل:

نه!

تر اوسه خو نه ده، راغلې.

بیا یې و ویل:

کولای شم کور د نړدې نه، وګورم؟

نورک اکا و ویل:

ولې نه!

ستا خپل کور، دی.

بیا هغه ته یې، د کور ننوتو بلنه ورکړه.

د کور خاوند و ویل.

ته د ننه شه!

وګوره!

څوک نه وي.

نورک اکا، کور ته، د ننه او بیا یې و ویل:

څوک دې، نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

د کور خاوند انګړ ته، د ننه شو.

کور او کوټې يې، د نږدې ولید.

د جهادي تنظيمونو په خپل منځي جګړو کې د هغه کور زيان ليدلی او ځو راکټونه په کې، لګېدلي هم وو.

بيا يې نورک اکا ته، و ويل:

ته ځان ته بل کور، و مومه!

زه غواړم، د خپل کور بيا رغونه، وکړم.

نورک اکا و ويل:

دا خو ډېر ښه کار، دی.

زه به ځان ته، بل کور، و مومم.

کله چې د بيا رغونې چارې يې خلاصې شوې، بېرته به خپله کډه راوړم.

د کور خاوند و ويل:

سمه ده!

زه خو په کور کي، خرڅه (مصرف) کوم.

وروسته پلان لرم چې، خپل کور، په کرايې، ورکړم.

نورک اکا و ويل:

ما سوچ کوه چې، دا کور به پر ما، وسپارې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

زه به د کور پالنه هم، وکړم.

څه بوټي او ونې به په کې،هم  کښېنوم.

د کور خاوند، و ویل:

زه غواړم کومې پیسې چې په کور کې لږوم، بېرته لاس ته، راوړم.

نورک اکا  ویل:

زه غریب سړی او په ښار کې مزدوري، کوم.

د یوه چرګ ګټه هم تر پنځوس افغانیو، ډېره نه وي.

دومره ګټو، چې ویې خورو.

نه په نس ماړه یوو او نه په تن پټ.

نو، کرایه به څرنګه، ورکړو؟

د کور خاوند و ویل:

ستا خوښه!

اوس څوک بې پیسو(مفتې) خبرې هم، نه کوي.

نورک اکا خواشینی، شو.

بیا یې د کور خاوند ته و ویل:

ما ته څه وخت راکړه چې ځان ته، کوم بل کور، و مومم.

د کور خاوند و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

سمه ده!

زه تا ته، یوه میاشت وخت درکوم، تر څو ځان ته، بل ځای پیدا کړې.

هغه و ویل:

سمه ده!

د کور خاوند غوښتل د کور نه د باندې شي.

نورک اکا هغه ته، و ویل:

راځه څو دکیکي په کوټې کې، کښېنه.

زما سره، یوه ګیلاس تریخ چای، وڅښه.

دمه به دې هم، جوړه شي.

هغه و ویل:

مننه کوم.

اوس بل چېرې، کار لرم.

بیا کوم بل وخت چې، نصیب وي، چای به د تا سره وڅښم.

نورک اکا د هغه سره تر دروازې هم لاړ.

د کور خاوند د دروازې نه و وت.

د نورک اکا سره یې خدای پاماني وکړه.

هغه په لارې سیده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څښتن ته یې هم، و نه کتل.

څه موده تېره شوه.

میاشت په چټکۍ سره، پوره شوه.

نورک اکا و نه توانېد تر څو، کوم بل کور بې له کرایې نه، ومومي.

څو ورځې نه وې تېرې شوې، چې د کور خاوند، بیا راغی.

وخت سهار وختې و.

نوی د سهار لمونځ په جمع، ادا شوی و.

نورک اکا هم د جومات نه، کور خوا ته، روان و.

د کور خاوند، د کور مخې ته، ولاړ و.

سترګې یې پر نورک اکا، و لګېدې.

په غصه شو.

او له ځانه سره یې، څه و ویل:

نورک اکا نږدې شو.

هغه ته یې سلام، ورکړ.

له غصې یې د هغه سلام ته، ځواب ور نه کړ.

نورک اکا خپل لاس د احترام په توګه، وړاندې کړ.

د کور خاوند د نورک اکا لاس ته، ټکان ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

بیا یې په غصه و ویل:

ما خو در ته ویلي و چې کور د یوې میاشتې په ترخ کې وزګار(تش) کړه.

ته، تر اوسه دلته یې.

نورک اکا و ویل:

ما ډېر کوښښ وکړ چې کوم کور، نږدې و مومم خو تر اوسه مې نه دی موندلی.

د کور خاوند و ویل:

دا ستا خپل کار دی.

ما درته یوه میاشت وخت درکړی و.

اوس څو ورځې نورې هم، اوښتې دي.

همدا اوس کور راته ،تش کړه.

زه غواړم سبا وختي، خټګر او ترکاڼ راولم.

نورک اکا هر څه عذر او زاریٔ وکړې، خو کوم ځای یې و نه نیوه.

شاوخوا ګاونډیان او لاروي، راټول شوو.

هغوی هم کوښښ وکړ تر څو د کور خاوند قانع کړي چې کور موندنه د نورک اکا له پاره ساده کار نه دی، ځکه هغه بې وزلی او د کرایې ورکولو توان، نه لري.

خبرو او عذرونو، کومه ګټه را نه وړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

بیا خلکو د کور خاوند نه یې یوه اونۍ نوره هم، وخت واخیست.

هغه په غصه و ویل:

نورک اکا!

دا ځل مې د ګاونډیانو او سپین ږیرو لپاره (په خاطر)، یوه اونۍ وخت درکړ.

په نوې اونۍ کې دې، دلته و نه ګورم.

کوم وخت چې و وتې، کیلۍ هټۍوال ته، ورکړه.

هغه په قهر او غصې، له ځایه و خوزېد او لاړ.

نورک اکا ډېر خواشینی شو.

کورته، د ننه شو.

ښځې یې له هغه وپوښتل:

څنګه شو؟

هغه و ویل:

یوازې یوه اونې وخت راته ، ګاونډیانو اوږد کړ.

بیا هغې و ویل:

خدای مهربانه، دی.

کېدای شي، کوم کور و مومو.

نورک اکا و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې له شکه!

کورونه ډېر دي، خو بې له کرايې نه شته.

هغې و ويل:

وګوره!

کوم ارزانه کرايي کور که په دې نږدې ځايونو کې، و مومې.

هغه و ويل:

سمه ده!

ګرځېدل، په کار دي.

زه اوزګار نه يم چې پسې وګرځم.

ښځې يې و ويل:

زه به، پسې وګرځم.

نورک اکا و ويل:

سمه ده!

خو زوی دې هم، د ځانه سره يوسه.

کوښښ وکړه تر څو کوم ارزانه کور، پيدا کړې.

هغې و ويل:

سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه به، کوښښ وکړم.

بیا د نورک اکا ښځې و ویل:

ته کوټې ته لاړ شه.

زه به چای دم کړم.

ته هم، خپلې دندې، ته ځې.

هغه و ویل:

سمه ده!

نورک اکا کوټې ته د ننه شو.

سوړاوسپلی یې و باسه.

پر توشکې کښېناست.

بالښت یې، څټ ته کېښود.

کوشنۍ راډیو یې روښانه (چالانه) کړه.

د خبرونو وخت و.

خبرونو ته یې غوږ و نیو.

په دې ترڅ کې، ښځه یې کوټې ته د ننه شوه.

هغې دم کړی چای، په پطنوس کې نیولی و.

نورک اکا ته، نږدې او پطنوس یې، د هغه په مخ کې، کېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

بیا یې د الماری نه د ډوډۍ دستر خوان، راواخیست او نورک اکا مخې ته یې اوار کړ.

کندانی (قنداني) یې را واخیسته او یوه کاچوغه بوره یې په یوې پیالې کې واچوه.

بیا یې د چایجوش نه چای، په پیالې کې واچوه او نورک اکا مخې ته یې کېښود.

نورک اکا هم د چای په څښلو، پیل کړ.

سهار وختی و.

د هغه څه ماشومان لا هم، بیده وو.

مشر زوی یې هم دستر خوان ته، کښېناست او پر چای څښلو یې پیل کړ.

چای، و څښل شو.

نورک اکا او مشر زوی یې، له ځایه پاڅېدل او د کوټې نه، و وتل.

خپل بوټان یې په پښو او واسکټونه یې، سم کړل.

بیا د کوره و وتل او دندې خوا، روان شوو.

هغوی خورا خپه او ټوله ورځ یې په سوچونو کې، تېره کړه.

چندان سودایې، هم و نه کړه.

ورځ پرې، په سختۍ تېره شوه.

نورک اکا، ماښام ناوخته، کور ته ستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
..............

د شپې ډوډۍ تیاره وه.

ښځې یې د الګانو پیاوه، پخه کړې وه.

نورک اکا خپلې ښځې ته و ویل:

ته خو به د کور لټونې د پاره نه وې وتې؟

هغې و ویل:

وتلې وم.

ټوله ورځ، په نږدې کوڅو کې و ګرځېدم.

نن خو تش لاس، بېرته کورته راغلم.

ډېرې ښځو راته وعده راکړه، چې راسره مرسته وکړي.

بیا نورک اکا و ویل:

ما هم، خپلو ملګرو ته، و ویل.

هغوی هم زما سره وعده وکړه تر څو په لنډه موده کې یوه ارزانه کور و مومي.

توکل په خدای!

بیا، ښځې یې و ویل:

کتغ تود دی.

څه وکړم؟

نورک اکا و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

ماشومان ټول په کور کې دي؟

هغې و ویل:

هو!

سمه ده!

کتغ و باسه، چې ویې خورو.

بیا یې زیاته کړه.

د نن ورځې تولکي پلو هم، بې خونده و.

چاي مې هسې له یاده، و وت.

ډېر بې چورته (چرته) وم.

ښځې یې و ویل:

چورت (چرت) مه وهه.

هر څه د خدای په لاس کې دي.

خدای به رڼایې کړي.

نورک اکا و ویل:

بې له شکه.

بیا یې خپل زوی ته، و ویل:

د لاس منځلو اوبه راوړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پاڅېد.

کوزه او لګن (چلمچي) یې راوړ او د کورنۍ د غړو په لاس منځلو یې، پیل کړ.

لمړی یې خپل پلار ته اوبه واچوې او وروسته د کورنۍ، نورو غړو ته.

د نورک اکا لور، دسترخوان اوار کړ.

د پل خشتي جومات تر څنګ کومي وچې او ارزانه ډوډۍ نورک اکا اخیستې وې پر دسترخوان کېښودې.

په دې ترڅ کې د نورک اکا ښځې ماشومانو ته غږ کړ.

راځئ!

کاسې کور ته یوسې.

پیاوه، توده خوند کوي.

بیا ماشومانو په چټکۍ سره، کاسې ویوړې او پر دسترخوان یې کېښودې.

نورک اکا او نورو د وچو ډوډیو پر ماتولو، پیل کړ.

هغوی به ډوډۍ ماتوې او د پیاوې په کاسو کې به یې اچوي.

کاسې ډکې شوې.

لږ څنډ وروسته د نورک اکا ښځې د الوګانو (کچالانو) غاب راوړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

غاب يې د دسترخوان په منځ کې کېښود، تر څو د ټولو لاس ورته ورسېږي.

ډوډۍ په خوند سره پيل شوه.

نورک اکا به کله ډوډۍ خوړه او کله به په سوچ کې ډوبېده.

ډودۍ خلاصه او دستر خوان، ټول شو.

نورک اکا شکر، و ويست.

بيا څه ځنډ وروسته، ښځې يې چای راوړ.

هغوی، چای وڅښل.

د کور موندې کيسې، روانې وې.

شپه پخه او ډېری ماشومان، بيده شوو.

پر نورک اکا هم خوب، راغی.

پر توشکې و غزېد.

بالښت يې تر سر لاندې، کېښود.

سوړ اوسېلي يې و باسه.

بيا په سوچونو کې، ډوب شو.

ځنډ وروسته هغه هم، بيده شو.

سهار وختې د چرګانو آذانونو، کوم چې هغه په کپسونو(ققسونو) کې ساتلي و، راويښ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

سترګې يې و مښې.

له ځايه، پاڅېد.

بيا انګړ او وروسته، حمام ته لاړ.

اودس يې وکړ.

بيا د کور نه، و وت.

ځان يې د سهار لمونځ جمع ته، ورساوه.

مشر زوی يې هم ور سره و.

د لمانځه نه وروسته، ځينو سپين ږيرو ته يې د خپل د کور ستونزې و ويلې.

هغوی هم وعدې وکړې تر څو، د هغه سره په کور موندنې کې، مرسته وکړي.

دوې ورځې نورې هم، تېرې شوې.

د نورک اکا ښځه سهار و ختې د چای څښلو نه وروسته، د کور لټولو د پاره، و وته.

اخوا ديخوا و ګرځېده.

يوه خورړنه يې مخې ته، راغله.

هغې ته يې سلام ورکړ.

هغې هم، سلام ته، وعليکم و ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
.............

بیا یې د نورک اکا ښځې ته ، زېرى ورکړ.

هغې و ویل:

ښه شو چې له تا سره مې ولیدل.

که نه، غوښتل مې ستا کورته، راشم.

ښه شوه ،پر مخه راغلې.

ما تاسو ته په ارزانه، یوه کور موندلی دی.

راځه چې، هغه وګورو.

په کیسو، کیسو هغوی کرایي کورته، ورسېدل.

د کور کیلۍ د ګاونډ په کور کې وې.

خورړنه یې مخکې شوه او د ګاونډ کور دروازه یې وټکوه.

یوه الک دروازې ته، راغی.

دروازه یې خلاصه او ښځو ته یې سلام واچوه.

هغو هم د الک سلام ته، وعلیکم و ویل.

بیا یې ترې وپوښتل.

مور دې په کور کې ده؟

هغه و ویل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

بیا یې و ویل:

کولای شو د ننه راشو؟

الک و ویل:

تاسو دلته ودرېږئ!

زه به مې مور ته، غږ کړم.

الک کور ته، د ننه شو.

هغوی د دروازې تر څنګ، ودرېدې.

څو د کیکې نه وې تېرې شوې چې، د الک مور دروازې ته راغله.

د ښځو سره یې ستړي مشي وکړه.

د نورک اکا د ښځې خوررېنه یې و پېژانده.

بیا یې هغوی ته د کور د ننوتو او چای څښلو، بلنه ور کړه.

هغوی و ویل:

مننه کوو.

خور رېنه مې غواړی، ګاونډ کرایي کور وګوري.

د الک مور و ویل:

سمه ده!

زه به، کیلۍ را واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی و ویل:

سمه ده!

مونږ به، په انګړ کې ودرېږو.

د الک مور، کوټې ته ننوته.

بیا په چټکۍ سره د باندې او کیلۍ یې هغوی ته، وښودې.

بیا هغه د مخه شوه او ښځو ته یې و ویل:

راځې چې، ځو.

بیا یې خپل زوی ته و ویل:

دروازه بنده کړ، چې چرګان و نه وځي.

الک و ویل:

سمه ده!

مورې!

هغوی ټول د انګړ نه و وتې او کوڅې ته شوې.

بیا د کرایي کور ته، ورسېدې.

د الک مور کیلۍ د دروازې په کلپ (قفل) کې د ننه او کلپ یې خلاص کړ.

بیا یې دروازه ټېله او د ننه خوایې، خلاصه کړه.

پر ښځو یې، غږ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځئ!

هغوی هم کوشني انګړ ته، د ننه شوې.

بیا یې د کوټو په لیدو، پیل کړ.

کوټې یې و کتې.

وروسته یې د الک د مور نه و پوښتل:

کرایه یې څو ده؟

هغې و ویل:

زه نه پوهیږم.

کرایه یې، زما میړه ته څرګنده ده.

بیا یې و پوښتل:

میړه دې څه وخت کور ته راځي؟

هغې و ویل:

هغه په حکومت کې مامور دی.

هره ورځ، وروسته له څلورو بجو، کور ته، راځي.

د نورک اکا ښځې، و ویل:

سمه ده!

مننه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

زه به نورک اکا ته و وایم چې سبا پنځه بجې ستاسو، کور ته، راشي.

د الک مور، و ویل:

سمه ده!

زه به د الک پلار ته و وایم چې سبا کوم وخت چې کورته راغی، د باندې لاړ نه شئ.

بیا یې ښځو ته و ویل:

راځئ!

د باندې شو.

هغوی د کور نه، و وتل.

بیا د الک مور دروازه، وتړه.

کیلۍ یې په جب کې واچوې او د ښځو سره ببرته، خپل کور خوا ته روانه شوه.

کورته، ورسېده.

بیا د نورک اکا ښځې او د هغې خورڼي ترې خدای پاماني واخیسته.

د الک مور خپل کور ته، د ننه شوه.

د نورک اکا ښځه او د هغې خور ڼنه هم خپلو کورونو خوا، روانې شوې.

په یوه ځای کې یې، یوې د بلې نه خدای پاماني واخیسته او هر یوه خپلو کورنو ته، ستنې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نورک اکا ښځه خوشحاله شوه.

وخت تېر او ماښام نا وخته شو.

نورک اکا کور ته، راغی.

هغه په سوچ کې و.

ښځې يې و ويل:

پوهيږې!!

نن مې يوه کور، وليد.

زمونږ د پاره ډير ښه او مناسبه دی.

ما هغه کور د نږدې نه، وليد (وکوت).

کيلی يې د ګاونډ کورښځې سره وې.

نورک اکا وپوښتل:

کرايه يې څو ده؟

هغې و ويل:

ګاونډ ته څرګنده ده.

د ګاونډ ښځې و ويل:

سبا وروسته له څلوربجو نه، نورک اکا ولېږه، چې زما د مېړه سره خبرې وکړي.

هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده!

څوک به زما سره لاړ شي؟

ښځې يې و ويل:

ته، کورته راشه، زه به درسره لاړه شم.

نورک اکا و ويل:

سمه ده!

سبا به وختي، کورته، راشم.

نورک اکا، خوشحاله شو.

شپه د تل په څير، تېره او سبا شو.

نورک اکا وختي کارته، لاړ.

بيا مازيګر کورته، ستون شو.

ښځه يې د هغه سره د کراي کور ګاونډ ته، لاړه.

دروازه يې وټکوه.

بيا هماغه الک، دروازې ته راغی.

نورک اکا وپوښتل:

پلار دې کورکې دی؟

هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............

هو!

هغه په کور کې دی.

بیا یې هغه ته، و ویل:

پلار ته دې غږ، کړه.

د ګاونډ کور د کرایې په هکله ترې پوښتنه کوم.

هغه و ویل:

سمه ده!

زه به ورته، غږ کړم.

الک کورته، د ننه شو.

څو دکیکې نه وې تېرې شوې چې د الک پلار دروازې ته، راغی.

د سترګي مشي نه یې وروسته، وپوښتل:

څه خدمت کولای شم.

نورک اکا و ویل:

زما ښځه پرون د ستا د ښځې سره یې ګاونډ کور، لیدلی و.

مونږ غواړو هغه په کرایه و نیسو.

بیا د الک پلار و ویل:

تاسو پوهیږئ، چې کرایه یې څومره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورک اکا و ویل:

نه!

ګاونډ و ویل:

۸۰۰ اته سوه افغانۍ په میاشت کې ده.

نورک اکا و ویل:

کرایه یې لوړه ده.

زه یوه غریب سړی یم.

د کاه فروشي په کوڅې کې، چرګان خرڅوم.

دومره وس، نه لرم.

ګاونډ و ویل:

د څو افغانیو وس لرې چې زه یې خاوند ته ، و وایم.

نورک اکا و ویل:

۴۰۰ څلور سوه افغانۍ.

بیا د الک پلار و ویل:

زه به ستا په برخې کې، د کور خاوند ته، و وایم.

ډیر به کوښښ وکړم چې دا کور تا ته په کرایه درکړي.

نورک اکا و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

ته کوښښ وکړه، خدای مهربانه دی.

د الک پلار و ویل:

سمه ده!

زه ستا ستونزي، هغه ته و وایم.

ته سبا همدا وخت، راشه!

توکل په خدای!

بیا نورک اکا د هغه نه خدای پاماني واخیسته او د ښځې سره تر کوره لاړ.

ښځه یې کور ته د ننه او نورک اکا بېرته د کاه فروشۍ کوځې ته، سیخ شو.

کار ځای ته، ورسېد.

تر ماښامه، لګیا وه.

ماښام نا وخته بېرته، کورته راغی.

هغه لږ خوشحاله و.

د کرایې کور نیولو، هڅې رواني وې.

شپه تېره، بیا سهار وختي، دندې ته لاړ.

مازیګر د کرایي کور ګاوندیو یې په کوڅې کې ولید او د هغه یې وپوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه شو؟

هغه و ویل:

د کور خاوند راضي نه و.

ما کوښښ وکړ.

ستا د بې وزلي او ستونزو کیسه مې هغه ته، وکړه.

هغه و منه.

بیا نورک اکا و ویل:

کله کولای شم، کډه راوړم؟

ګاونډ و ویل:

سر له سبا!

هر کله، وغواړې.

بیا نورک اکا و ویل:

سمه ده!

مننه کوم.

کولای شم کیلۍ تر لاسه کړم؟

ګاونډ و ویل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
..............

خو کیلۍ په کور کې دي.

راځه!

کور ته لاړ شو.

زه به کیلۍ تا ته درکړم.

نورک اکا ډېر خوشحاله شو.

بیا د ګاونډ سره، تر کوره لاړ.

ګاوند نورک اکا ته، د چای څښنلو بلنه ورکړه.

نورک اکا و ویل:

مننه کوم.

کوم بل وخت به چای در سره وڅښنم.

بیا  ګاونډ خپل کور ته د ننه شو.

نورک اکا د دروازې څټ (شا) ته ودرېد.

څو دکیکې وروسته، ګاونډ را و وت.

کیلۍ  یې نورک اکا ته، ورکړې.

بیا یې هغه ته، و ویل:

د کور ساتنه به کوې.

د ژمې په وخت کې د بامونو واوره به، هرو مرو توګې (پاکوې).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورک اکا و ویل:

سمه ده!

د خپل د کور په شان به یې پالنه وکړم.

بیا یې د ګاونډ نه، خدای پاماني واخیسته او خپل کور ته، په خوشحالۍ سره روان شو.

خوشحاله کور ته ننوت او ښځې ته یې و ویل.

بلا یې، بلا !

زما یقین نه راته چې ته به، کور پیدا کړې.

اوس دې منم.

هغه په خندا شوه.

بیا یې و ویل:

ګیدړ دې له پامه ځناور، نه راځي؟

نورک اکا و ویل:

ګیدړ مه یادوه چې پیدا نه شي.

بیا به، چرګان وخوري.

ښځې یې، و ویل:

ته د څه د پاره یې؟

ته یې، مه پرېږده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

نورک اکا و ویل:

سمه ده!

بیا یې ښځې ته، و ویل:

سبا به تاسو د ماشومانو سره د کور کالي او لوښي ټول (غونډ) کړئ.

زه به هم ماسپښین، راشم.

یوه لاسې غټه ګاډی به راولمو تر څو شیان په کې بار او نوي کورته کډه وکړ،.

هغوی نوی کور ته کډه وکړه.

وختونه تېرېدل او ماشومان هم لوېدل.

لمړی، هغه خپل مشر زوی ته، کوژده وکړه.

دوې کاله وروسته هغه ته یې، واده وکړ.

بیا ټولو په ګډه، پیسې ټولوې.

څو کاله نور هم، تېر شوو.

بیا یې دوېیم زوی ته کوژده (کوزده) وکړه.

درې کاله ورسته یې هغه ته هم، واده وکړ.

بیایې یوه لور کوژده او څنډ وروسته، واده شوه.

د هغې خوسرګنی (خسرګنۍ) کور، په فاریاب کې وو.

هغه اوس په فاریاب ولایت کې، ژوند کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
.............

هغه، څو ماشومان هم لري.

کال وروسته یې بله لور هم کوژده او دوې کاله وروسته یې واده کړه.

هغه، ډېر خوشحاله دی.

زامنو یې، عسکری نه ده کړې.

اوس محال هغه ۴ څلور زامن او درې لورګانې لري.

درې زامنو او درې لورګانو یې، ودونه کړي دي.

د هغه په وینا سن یې تر اتیاوو اوښتی دی.

نورک اکا د خپل یوه زوی سره ګډ د باغ قاضي سیمې په نواب کوڅې کې، ژوند کوي.

هغه ډېر تکړه او پر تجارت یانې د چرګانو په پلور او پېر کي خورا چابکه او مهارت لري.

اوس هم د ځوانۍ په څېر وختي راځي او تر ناوخته، کاه فروشۍ کوڅې کې، پر کاراوبار لګیا او بوخت وي.

د هر چاه سره، ښه سلوک لري.

هغه خوشحاله او په خندا د خلکو سره، خبرې کوي.

هغه د ښه صحت نه برخه من دی.

د کرونا مریضي یې هم، تېره کړې ده.

هیچا د هغه سره مالي مرسته، نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
.............

زه هم، هغه د شلو کلونو نه را په دېخوا پېژنم.

کله ، نا کله دهغه نه بهرني چرګان، بتې (بتکې) او کيکرې په مناسبه بيه، پېرم.

هغه کار کوي او په خوشحالۍ سره، ژوند تېروي.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

..............

## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايې (برای اساتید انستیتوت های تخنیکې و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان، بر بر در فن معماری و معماری
١٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا
..............

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب میشود
٤۰. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤۱. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤۲. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤۳. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤۷. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤۸. حشمت خان د کلا معماري
٤۹. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥۰. د وچو بڼونه او پارکونو معماري
٥۱. د یوې ښونکې مینان په یوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥۲. د ژرنده ګړي ماما مینه (پښتو ناول)
٥۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادي (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥۷. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥۹. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواره ملګري (پښتو ناول)
٦۰. د یوې میاشتې **ناوې** (پښتو ناول)
٦۱. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواريکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانيو جوماتونو توپير د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دينی مولوی صاحب خيرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهيد (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

## د کار لاندې کتابونو لړست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٢. لیونی لېوه
٣. د خاورو لاندې ښار
٤. سپین کارغه
٥. سور تنور
٦. خړه بیزو
٧. بندي مرغه
٩. بې وخته باران
١٠. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورک اکا

.............

**د امکان او وخت په صورت کې**

۱. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
۲. تاریخ معماری افغانستان
۳. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
۷. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Noorak Ancle

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** July -August /2026

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**